شریف الله دوست سرواني

۲۰۱۲/۰۲/۰۶

# دزنداورلرغونی جغرافیه

## دزنداور ښارونه

دریمه برخه

زمینداور دخپل تاریخي اوښکلي جغرافیایي موقعیت له مخي ډیر ودان اود یوه پرمختللي تمدن لرونکی مرکز ؤ په تاریخي جغرافیو کي یو وخت داسیمي دزنداور له توابعو څخه وی لکه:
۱: باغران(باغ رام)
خواش، درتل، درغش، بغنین، خلج(خلچ)، بشلنګ(پشلنګ)، سروان(سروان کلا)، موسی کلا.

دیادوني وړه ده چي اوس دزنداور ساحه ډیره راټوله سوی حتی خپله زنداور دهیواد په اداري تشکیلاتو کي دموسی کلا له کلیو څخه شمیرل سوی دی.
راځو دزنداور ددغو اړوندو سیمو تاریخی او جغرافیایی مخیني ته چي داسیمي او ځایونه یو وخت څومره مهم او دجغرافیه لیکونکو تاریخ لیکونکو اوادیبانو دپام وړ ؤ.
درتل ښار:- ابو اسحق ابراهم بن محمد اصطخری په(مسالک الممالک) کتاب کي په(۳۲۲ ه) شاوخوا کي لیکلي دي: دتل یا دارتل ښار دزمینداور له مهمو ښاورنو څخه بولي. وایي: دی ښار یو تینګ او مستحکم ارګ درلود چي دسپرواوسا تونکو لخوا یی ساتنه کیده، په څلورمه هجري پیړۍ کي دا ځای دیوه سرحدي پوستی په حیث ؤ. داهغه لاره او سرحد ؤ چي له دی ځایه به دغور په لوري لار تللی وه . داښار چي دهلمند دسیند په غاړه کي ؤ او له بُست څه یی ددرو ورځو فاصله درلوده. (۴۷)
ابو القاسم بن محمد ابن حوقل(۳۶۶ ه، ۹۷۶ م) کی د(درتل) یادونه کړی او وایي د(بلدی داور) دمهمو ښارونو څخه بللی(۴۸) دی درتل څخه تر بغنین (بغنی) پوري دیوی ورځي لار ده.(۴۹) له سروان څخه دزمینداور تر رتل پوري یوه موحله لار ده . له بُست څخه تر سروان (سروان کلا) دداور ښار ته پر لاره دوه منزله دی، پس دسروان(سروان) په یوه منزل کي باید دهیرمند(هلمند) تر رود تیر سي او (درتل) ته رسیږي. له درتل څخه تر درغش پوري تریوه منزل ډیره لاره ده(۵۰). ملک شاه حسین(کیاني،هلمندي) په خپل اثر(احیاء الملوک) (۱۰۲۷ هجري) کي په دی بحث (خبر رسول عبدالله خان والی توران به هرات... په ۳۰۰ مخ کی رغلي ... بر سر تل خواجه چهل ګزی رسدندو...(۵۱)دچهل ګزی په نامه اوس هم یو کلی په کجکی کی سته. دتل خو تل دلوري او تپی په مانا راغلی نو دغه(دارتل) دهمیشه خوب(تل روغ) په مانا هم لیکل سوی دی. نو اوس دانه ده څرګنده چي ددی نامه وجه تسمیه به څه شی وی ایا همدالوړ او که ...؟
په حدود العالم کی هم جوزجانی د(تل) یادونه کړی او هغه یی دغور پر سر حد او پوله بللی دی .
دبغني د دری دپای په برخه کي سر بغني کلي پروت دی دنوموړي کلي سهیل لودیز ته دغرونو په کمرونو کي دتل او ګونجین کلي پراته دي. (۵۲)

بشلنګ:-
دافغانستان دجغرافیایي قاموس په لومړي ټوک(۲۵۹ مخ) کي راغلي
چی بشلنګ دموسی کلا په علاقه کي دشهیدانو دکلي دشمال په ۱۰ کیلومترۍ کي دختیځ طول البلد په ۶۴ درجو ۴۷ دقیقو ۱۰ ثانیو او دشمالی عرض البلد په ۳۲ درجو، ۳۷ دقیقو او ۱۸ ثانیو کی واقع دی. (۵۳)
خو دتاریخي جغرافیی له نظره داسیمه زوړ او لر غونی شالید لري چي وخت په وخت یی داسلامی جغرافیه لیکونکو او تاریخ لیکونکو لخوا یادونه سوی ده.
دبشلنګ،فشلنګ، پشلنګ کلا دزمینداور شمال لور ته په غرنیو برخو کي یانی دغور دسهیل پلوته پرته ده. اصطخری په (۳۲۲ ه) شاوخوا کي دپشلنګ نوم په شلنګ سره یاد کړی څکه عربان(پ) نلری نو (پ) په (ب) اړوی او (ګ) په (ج) سره څکه نو عربانو (فشلنج) نومولی. اصطخری یی (ب) په پیښ سره یاده کړی ده.
دبرهان قاطع له مخی دبشلنګ کلمه به لومړی پیښ او دلام په زور سره داسی کلا ته ویل کیږی چی دغره په څوکه اباده وی لکه کلات چی پر غونډۍ باندی ودان ښار ته کلاته وایي(۵۴). پشلنګ د(پ) او(ل) په زور دشاته پروت یا شاته غورځولي په مانا راغلی دی(۵۵). خو تر دی مانا یی تیریږو چي لوستونکي په دوه فکره کي پاته نسي. پشلنګ د(پ) په پیښ او زیر د(ل) په زور هغه کلا ته وایي چي دغره پر څوکه او سر جوړه سوی وي. (۵۶)



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ابو القاسم بن محمد ابن حوقل په(۳۶۶ه، ۹۷۶ م) شاوخوا کي بشلنګ، خلج او بغنين دحاکمانو دناستي ځای دی چي هره سيمه حاکم لری. (۵۷)
فرخي سيستاني شاوخوا زرکاله پخوا دسلطان محمود غزنوي په ستاينه کي چي کله يی داتينګه کلا ونيول ځو بيتونه لري لکه:

| | |
|---|---|
| خسرو غازی محمود محمد سيرت | شاه دين ورز هنر پرور کامل |
| آنکه برکند بيک حمله درقلعه تاغ | وانکه بکشاد بيک تير درارګ زنګ |
| آنکه زيرسم اسان سپه خرد بسود | به زمان درودیوارحصار (بشلنګ)(۵۸) |

دفرخي سيستاني(هلمندي) په پورتني شعر کي هم د(بشلنګ) په نامه راغلی او دعربي تر تاثير لاندي سوی ځکه لکه مخ کی چي يادونه وسوه عربان (پ) په (ب) ليکي لکه (پامير) چی(بامير) کاري. خو دبشلنګ، لوړ بشلنګ او کښته بشلنګ داتلس قريه های افغانستان دهلمند په څېرکي اودکجکی په ولسوالي کي ثبت سوی او هلته يی د(باشلنګ) په نامه ليکلی دی.

ددرغش ښار:-
ددرغش- لرغاښی- دارغاش ښار هم دزمينداور دښارونو څخه ؤ چي تر (دارتل= تل= درتل) يو منزل لوړ دهلمند رود پر غاړه واقع دی. اوس مهال په دی سيمه کي ځيني خرابی سته چي د(درغنی) په نامه سره ياديږي.
په (حدود العالم من المشرق الی المغرب ۳۷۲ ه) کي يادونه کړی او ويلي يی دي چي "در درغش ارغوان رويد بسياره".
ابواسحق ابراهيم بن محمد اصطخري په(۳۲۲ ه) شاوخوا کي ددرغش نوم ياد کړی او وايي "د(تل او درغش) ترمنځ يو منزل لاره ده". (۵۹)
دعلامه رشاد بابا په وينا درغش ښايی(لرغنی) وی او ديوه کوتل نوم وی.
ابوالقاسم بن محمد ابن حوقل په (۳۶۶ ه، ۹۷۶ م) په خپل اثر(صورت الارض) کي ليکي چي په داور کي پيداوار ډير دي مهم ښاورنه يی (درغش) او درتل دي.(۶۰)
دعماد الدين اسماعيل بن نورالدين علي مشهور په ابو القداهم پخپل کتاب( تقويم البدان) د(۷۲۱ ه) چاپ کي د(درغش) يادونه کړی او حدود يی ټاکلي دي.(۶۱)
دخواش ښار: اصطخری په (۳۲۲ ه) شاوخوا کی دخواش دښار يادونه کړی ده او هغه يی يو بی ديواله ښار بللی دی(۶۲). اصطخري په(۳۲۲ ه) شاوخوا په خپل کتاب(مسالک او ممالک) کي کاري چي "(زرنج، خواش،بُست، روزان، سروان، صالقان، بغنين، درغش، تل ، بشلنګ، پنجوايي، کوهک، غزنه(غزنی)، قصر سيوی، اسفنجای او حاپای(= دابنايي دنوزاد دسيستان له ښارونو څخه دی او تر زرنج لوی ښار نسته"(۶۳). اصطخري دلته دخواش، تل، سروان، بغنين، درغش، بشلنګ يادونه هم په غټو ښارونو سره کړی چي زموږ ددی ليکني موخه هم داځايونه په ګوته کول او تاريخي ارزښت يی راسپړل دي. حرب بن عبيده بُستي هم دهمدی خاش اوسيدونکی ؤ دی دحمزه سيستانی په پيروی په بُست کی عربو ته پورته سو او تر(۱۹۹ هجري) پوري يی د خپلواکی غوښتلو هنګامه توده ساتلی وه.(۶۴)
په تاريخ سيستانی کی د(۴۵۰ ه) شاوخوا کی هم دخواش يا خاش يادونه تر لس واره ډيره سوی ده. همدا ډول دملک شاحسين په(احياء الملوک) کی د(خاش) يادونه نهه واره سوی ده.

دخوابين ښار:
داښار دزميناور په شمال کي واقع دی چي په(۴۰۵ ه) دسلطان محمود غزنوي لخوا ونيول سو په دی وخت کی داځای په ابوالحسن خلف پوری تعلق درلود. ددی ښار يادونه تاريخ بيهقی دپنځمي هجری پيړی په لومړی نيمايی لومړی لسيزه کي کړی ده. په خوابين کي ډيري ټينګي کلاګاني وی خوابين دولايت په نوم هم په تاريخي دورو کي ياد سوی دی. (۶۷)

دبغنين ښار:
په(حدود العالم من المشرق الی المغرب ۳۷۲ ه) کی کاري چي دبغني ښار غور ته نژدی دی او په هغه کي مسلمانان سته(۶۸). دبغنين د دری دپای په برخه کي سر بغنی کلی پروت دی. دابن حوقل په صورت الرض(۳۶۶ ه) کي کاري چي دبغني سيمه ډير مهمه او حاکم لری. (۶۹)
اصطخري په(۳۲۲ ه) کي وايي چي د(تل) څخه تربغني پوري يوه ورځ لار ده. په صورت الارض کي وايي چي د بغنين په سهيل (جنوب) کي دبشلنګ قبايل ميشت دي. په(جغرافيه حافظ ابرو ۸۳۰ ه) کي دبغني يادونه دوه ځايه سوی او هغه يی دغور له توابعو څخه بللی وګوری(۲۴ او ۸۱) مخونه دهمدی اثر. په تاريخ سيستان کی چی ليکوال يی ناڅرګند دی او دپنځمی هجری پيړی په شاوخوا کی ليکل سوی هم دبغنی نوم په(بغنين) سره يوار په (۳۵۹ مخ) کي ذکر سوی


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دی. بغنین دزمینداور دښارونو څخه ؤ چي د(دارتل) په لویدیزه خوا یومزل[1] لیری پروت ؤ. داښار دخلجیان(غلجیانو) او بسلانګ(پشلنګ) قبیلی مرکز ؤ. اوس داځای بغنی بولي(۷۱) چی ترډیره دالکوزو قوم پکښي میشت دي.
باغ رام(باغران):- تر هرڅه دمخکي دباغ ارم نوم دپښتو دادب په زړو اثارو کي څر ک تر سترګو کیږی. دلرغونی پښتانه لیکوال دتاریخ سوري په حواله او محمد هوتک بن داود دلرغوني پښتانه په حواله لیکی چي "امیر کروړ دامیر پولاد سوری زوی ؤ چي په(۱۳۹ ه) کي دغور په مندیش کي امیر سو امیر کروړ به په دوبي کي په (زمین داور) کي ؤ او هلته یی ماڼۍ درلوده چي کټ مټ دمندیش په شان وه"(۷۲).
له دی څخه سړی داجاج اخیستلای سی چي همدی(باغ ارم) ته اشاره ده. دپښتو ادب په تاریخ کي بل ځای هم (باغ ارم) دنامه څرک وینو لکه دتایمنی دچاربیتي په دی لومړي نیم بیتي کي:

ماد(داور) په مځکه ولید(ارم)
دادجنت په ځیر و بڼ ښه خُرم
دفیروز کوه په دود ودان دی نا
ښکلی هرګل څه ښه خندان دی نا(۷۳)

ګردیزي په زرین الخبار کي دمندیش کلا په هغو کلا ګانو کی شمیری چي هلته به دباچاهانو خزانی ساتل کیدی نو دلته چی دتاریخ سوري لیکوال چي پخپله هلمندی او بُستی دی (محمد بن علی البُستی) دزمین داور دباغ تشبیه دداسی کلا سره کړی چی هغه د مندیش ده یعني دباچاهانو جواهرات او زربه پکښي ساتل کیده نوځکه ډیر مهم بلل کیږی. دلته دزمینداور همدی باغ دسیمو په کچه نوم درلود(۷۴).
تایمنی بیا پخپله چاربیته کي کاږی چی (ارم= باغ ارم) دفیروزکوه په ځیر ښکلی او ودان ؤ، فیروز کوه دغور یو تینګ، اباد او ښکلی ښارؤ، چي دغوري شاهانو دسیاسي مرکزونو څخه شمیرل کیدی. ددی ښار بنسټ دملک الجبال قطب الدین محمد لخوا کښیښودل سو او دسلطان شهاب الدین غوري په وخت کي دترقی اوج ته ورسید(۷۴). تایمني هم دهمدی دوری شاعر تیر سوی او دادواړه ځایونه یی په خپلو سترګو لیدلی چي (باغ ارم یا ارم) او فیروز کوه یو تر بله ښه بللي.
محمد بن علی بُستی بیا دزمینداور باغ چی ښایی همدا(باغ ارم) ته اشاره کوی او کټ مټ یی دمندیش دماڼۍ په ځیر بولي. نو دلته خپلي موضوع ته په کتلو سره باید وویل سي چي(باغ ارم) دیو پراخي منطقی په سطحه ښکلی او خُرم ؤ.
ابو عمر منهاج الدین عثمان بن سراج الدین مشهور په منهاج سراج جوزجاني تر(۶۲۴ هجري) کلو وروسته مړ، په خپل یوه ارزښتناک اثر(طبقات ناصری) کی دباغ ارم (باغران) په اړه کاږی چی "ثقافت چنین روایت کرده اند که سلطان غیاث الدین در اول جوانی معاشر عظیم بود وشکاردوست، و ازحضرت فیروزکوه که دارالملک او بود تا شهر(داور) که دارالمک زمستان اوبود هیچ آفریده رامجال نبودی که شکار کرده ومیان آن دو شهر چهل فرسنګ بود، هر فرسنګ رامیلی فرموده تا برآورده بو دند ودر(زمین داور) باغی ساخته بود. آن را(باغ ارم) نام نهاده والحق در(میان) دنیا مثل نزهت وطروت آن زیادت بود وجمله چمن های آن باغ بدرختان صنوبر واپهل وانواع (یاحین) آراسته وسلطان فرموده تا درخوالی آن باغ میدانی ساخته بودند، طول وعرض آن میدان مثل طول وعرض آن باغ بود".(۷۵)
داچی اوس په زمینداور کي په دی نامه باغ نسته خو اوس دصنوبر دونو علایم هم نه ښکاري خو څه وړاندي دغور پر سرحد یو ښکلی او زرغونه سیمه د(باغران= باغ ارم) په نامه موجوده ده کیدای سي چي په همدی سیمه کي داباغ موجود ؤ او کرار کرار دی سیمي ددی باغ نوم خپل کړی وی او (باغ ارم) بلل سوی وي چي اوس یی خلک په غلطه باغران تلفظ کوي.
لوړو شواهدو ته په کتو سره (باغ ارم) هم دخپل وخت یوه تاریخي او ادبي سیمه وه چي په ځانګړی توګه دغوري اوبستي شاهانو ژمنۍ پلازمینه وه او دلته به یی دشعر ، مشاعرو او ښکار څخه خوند اخیستی او دژوند خوږی شپی به یی پکښی تیرولی.
باغران اوس دهلمند ولایت څلورمه درجه ولسوالي ده چي تولة ډبرینه او غرنۍ سیمه ده، دمختلفو زاویو او شکلو په ډول پرته ده شمال ته یی دډایکنډي غرونه او سابند(سیابند=پسابند) ، سهیل ته یی زمینداور او موسی کلا ختیځ ته یی دهراوت او کجران لویدیځ ته یی لوی غر اوسا بند(سیا بند) پراته دي.
مساحت یی(۳۵۸۷ کیلومتره مربع) دی موقیعت یی دختیځ طول البلد په ۶۴ درجو، ۳۴ دقیقو، او ۱۲ ثانیو، اوشمالی عرض البلد په ۳۲ درجو، ۵۷ دقیقو او ۲۴ ثانیو کي واقع دی.

سروان(سروان کلا) ښار:
سروان( سروان کلا) دهیتومنت (هلمند) په تاریخي سیمه کي په ځینو تاریخي او جغرافیایي اثاروکي دزنداور له توابعو څخه ګڼل سوی دی. ددی سیمي یادونه په زیاتو تاریخي جغرافیو کي سوی ده، چي په دی منځ کي( ابن حوقل په خپل

[1] منزل یا مزل شاوخوا ددیرشو میلو سره برابر دی اوپخوا به یی د یوی ورځي سفرته مزل وایه.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اثر(صورت الارض ) کي چي په (۳۶۵ هجري) شاوخوا کي ليکل سوی. ددی سيمي دښو او پراخو ميوو يادونه کړی ده، چي خرما او انګور يی زيات درلوده او همدا ډول يی ويلي دي چي داښار ګوټی يا سيمه دقرنين په اندازه دی، (قرنين هم دهلمند يو تاريخي سيمه ده،زيات شمير سپين ږيري وايي:چي اوسنی غرغری يا ګرګری همداپخوانی قرنين دی)، قرنين اباداو ښيراز دی چي ميوی يی بهر او نورو سيمو ته ځي.
په اشکال العالم کي راغلي دي چي زوروان (سروان) تر قرنين کوچنی دی او فيروز قند ته نژدی دی چي دعماراتو، زراعاتو او زياتو اوبو درلودونکی دی.(۷۸)
جوزجاني دحدود العالم من المشرک الی المغرب شاوخوا يو زرو شپيته کاله دمخه په(۳۸۹مخ) کي دخراسان په ښارونو کي پنځوسم ښار (ساروان) بللی دی. دساروان خلک يی شوخ، جنګی او دغوسی څښتنان بللی. (۷۹)
په قانون مسعودي کي داښار په غلطه سره (زروان) ليکل سوی دی او البيروني هم (زروان) دبُست له توابعو څخه بولي په المهاجو کي ليکي "زابلستان ته نژدی دطلا معادن په ډېرو او ځاګانو کی موجود دی چی داسیمه زروان(سروان) نوميږی چی د څښاجی؟ دکلي يا سيمی په څنګ کي په هغو غروکي دسيم، روی، اوسپنه،سرپ مقناطيس او نور معادنونه سته". (۸۰)
ګرديزي په زين الاخبار (۲۵۰ مخ) کی د(سروان) کلمه راوړی ده په لمن ليک کي يی علامه حبيبي زياته کړی ده چي" په سنسګريټ يی ساروان(Sarvan) بولی او دالبيرونی په کتاب الهند کی (شرابن) ليکلی دی". سرابن او ساروان اوس ساون بولی چی دهندوانو دکال څلورمه مياشت ده خو دزين الخبار په(۲۵۱ مخ) کی (بت ساون) هم راغلی دی.(۸۱)
دعلامه رشاد بابا په وينا دسروان کلمه عالباً د (زروان) له کلمی سره چي يوه رب النوع وه اړيکه لري.(۸۲) ددی کلمی ذکر دمقدسي په احسن التقاسيم في معرفت الاقليم کي راغلی دی خو دهغه په چاپ کي يو څه تير وتنه پيښه ده ، هلته يی د(سروان) پر ځای(سروسان) ليکلی دی او په بل چاپ کي يی(سروستان) ليکلی دی . اما ددی صحيح بڼه په صورت الاقليم کی ابن حوقل ضبط کړی دی او هلته دسروان په بڼه دی.(۸۳)
ابومحمد هاشم سرواني هم دهمدی سيمي ؤ، چي دپښتو ادب په تاريخ کي دڅباړی بنسټ له ده څخه راپيليږي. دلازياتو معلوماتو لپاره وګوری د(هلمند تاريخي جغرافيه) خو تر دامهاله چاپ نه ده.

موسی کلا:-
موسی کلا اوس دهلمند دوهمه درجه ولسوالي ده ددغي ولسوالۍ مرکز دګريش (ګريشک) دښاَر شمال پلوته (۶۹) کيلومتره ليري دخيتځ طول البلد په ۶۴ درجو، ۴۶ دقيقو، او ۱۸ ثانيو او شمالی عرض البلد په ۳۲ درجو، ۲۱ دقيقو او ۱۵ ثانيو کی موقيعت لري.(۸۴)
دموسی کلا نوم تر زنداور، سروان، بغنين(بغني)، بشلنګ، درتل اونورو ډير راوروسته په تاريخ او جغرافيو کي تر سترګو کيږي، خو داچی زنداور اوس ځينی دموسی کلا سره تړلی. پخوا موسی کلا دهمدی زنداور دتوابعو څخه وه. دموسی کلا دنامه وجه په دی سيمه کی ديوه مشهور شفاهي داستانه(موسی جان او ولی جان) څخه سرِی اتِکل کولای سي. دانکل دپښتانه شعرا په لومړی ټوک(۱۴۰ مخ) کي راغلی چي دوی دپښين او دکاکړستان په شاوخوا کي اوسيدل خو کانديد اکاډميسن محمد ابراهيم عطايي په خپل يو کتاب(هلمند دکلتور په ساحه کي) ليکلي:" ځايي خلک وايي چي موسی جان او ولی جان دموسی کلا وه اود موسی کلا هم دموسی کلا په مابين کي اوس يوه غټه زړه کلا ده چي شاوخوا شنه پټي پر راګرځيدلي دي او دهغه ځای خلک يی دموسی جان او ولي جان کلا بولي". په نوموړی کيسه کي دځای يادونه نده سوی نو که دخلکو روايت معتبر ونيسو داکيسه په هلمند پوری اړه لری.(۸۵)
خو دموسی کلا نوم ماته په تاريخ کی يوازی دملک شاه حسين بن ملک غياث الدين محمد بن شاه محمو سيستانی په(احياء الملوک) کی چی شاوخوا څلورسوه کاله دمخه ليکل سوی مخ ته راغلی دی چي هلته ليکوال په خپل يو سفر کي کاږی:" ...ه ن رايات جاه وجلال به حوالی(قلعه موسی) که موضعی است دراهای زمين داور رسيد". په پورته پاړسی متن کی چي داحياء الملوک دکتاب څخه رانقل سو هم موسی کلا دزميداور له ځمکی او سيمی څخه بولی.(۸۶)
په بل ځای کي کاږي: "... چون بنده به شرف سجده اشرف معزز ګرديد به زبان مبارک آورند که چون شما از(موسی قلعه) به فراه مرخص شديد". (۸۷)
په لوړ متن کی لومړی(قلعه موسی) ذکر سوی او دوهم ځای(موسی قلعه) زما په اند که دموسی کلا دنامه وجه دموسی جان او ولی جان دکيسی سره تړلی وبولو، نو ددی داستان اتِکل په اغلب ګمان سرِی د(فتح خان او رابيا) دمينی دداستان سره هم عصره بللای سی، چی په نهمه او لسمه هجری پيړی کی يی اتفاق مونډلی دی. دلته د(احياء الملوک) کتاب هم په (۱۰۲۷ هجري) شاوخوا کي ديوهلمندي ليکوال له خوا ليکل سوی دی، چي ليکوال يی دلسمي هجري پيړۍ په اخر او ديوولسمي هجری پيړۍ په اولو کښي ژوند کړی دی. او بله دیادونی وړ ده چی دماخذ دنشتوالی له امله زما سره په (احياء الملوک) کتاب کی د(موسی کلا) يوه بيلګه موجوده وه دلازياتو څيړنو لپاره دی د(۹-۱۰-۱۱ ه) پيړيو شاوخوا پښتو دری او پاړسی او يا بهرنی نسخی وکتل سی ښايی نور ځايونه هم ددی نامه او ځای پته ولګيږی.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

دخلج- خلچ ښار:
داښار هم دزنداور دمهمو ښارونوڅخه ؤ چي ابو اسحق اصطخری یی په(۳۲۲ هجري) شاوخوا یوولس سوه کاله پخوا دزنداور له توابعو څخه بولي. دانوم چي تاریخپوهانو په خپلو اثارو کي ثبت کړی تر اوسه په هغه زاړه نامه مشهور دی او دغور لمر لویده خواته یوه اباده سیمه او یو غر دپیر خلج په نامه مشهور دی.
دخلج دنامه آره او اصلی بنه علامه حبیبی څېړلی ده اولیکلي یی دي: زموږ دژبي یوه خورا مهمه او تاریخي کلمه(غر) دی غر په حقیقت کي ډېره زړه آریایي کلمه ده چي داویستا په( هوم یشت) کي(ګیري) رغلی.(۸۹)
په سانسکریټ کي هم داکلمه موجوده ده او هلته په (Giri- ګیري او ګیر) سره دغره په مانا استعمال سوی دی.(۹۰)
دتاریخي اسنادو څخه څرګندیږي چي داکلمه دآریایانو داصلی ژبي څخه پښتو، سنسکریټ او او یستا ته راغلی وي ، داکلمه دافغانستان په تاریخ کي لرغونی شالید لري. که دځینو ځایو او سړیو په نوموکي(غلزی، غلجی) چي دانوم بیشکه(غرزی) دی یعني دغره زوی چي وروسته غلزی سوی او خلکو ډول ډول مانا ورڅخه اخیستی، توماسچک چی یوغربی څېړونکی دی وایی چی(ګر،Gar) دزړی باختري ژبي کلمه ده، او غر هم دامو دلوړولتو دغرنیو قبایلو نوم ؤ نو ښکاره ده چی غرچه، خلج، غرج یا غلجي ټوله دغرو دزامنو مانا لري. وګوری چي غرچه دپښتو غرڅنی دی (۹۱).
نو له دی څخه څرګندیږي چي دخلج یا خلچ کلمه غره ته منسوبه ده او دغرني مانا ښندي.(۹۱)
خلج په منځني افغانستان کي دمشهوري سیمی آبادان څخه یو ځای دی چي په زمینداوراو غورکي ده او دعربو جغرافیه لیکونکو په وینا دزمینداور اړوند سیمه ده.(۹۲)
یو بل(خلج) دهملند په تاریخي سیمه کي لرو چي شاوخوا زرکاله پخوایی په تاریخ بیهقي کي یادونه سوی داخلج (۹۳) دناوی په ولسوالۍ کي موقیعت لري داخلج زموږ موضوع سره په توپیر کي واقع دی اودابل خلج دی هیله ده درانه لوستونکي دناوی خلج چي په تاریخ بیهقي کي یی یادونه سوی تر خپل نامه لاندي ولولي.

پاتی بیا


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ